# Contact

# د اړيکي توضيحات
## Details

**UNHCR Brussels**
Avenue Louise 283
1000 Brussels
Belgium
Tel: + 32 (0)2 627 59 99
Email: belbr@unhcr.org

**UNHCR Paris**
46/48 rue Lauriston
75116 Paris
FRANCE
Tél. + 33 (0)1 44 43 48 58
Email : frapa@unhcr.org

**يو ان اچ سي آر دفتر، پاريس**
46/48 rue Lauriston
75116 Paris
FRANCE
ټلفون: ۰۰۳۳۱۴۴۴۳۴۸۵۸
ايميل: frapa@unhcr.org

**UNHCR Calais**
Tél. +33 (0)6 03 46 48 03

**يو ان اچ سي آر دفتر، □که لاس□**
ټلفون:۰۰۳۳۶۰۳۴۶۴۸۰۳

**UNHCR London**
10 Furnival Street,
EC4A 1AB London
UNITED KINGDOM
Tel. +44 203 761 9500
Email: gbrlo@unhcr.org

**يو ان اچ سي آر دفتر، لندن**
10 Furnival Street,
EC4A 1AB London
UNITED KINGDOM
ټلفون:۰۰۴۴۲۰۳۷۶۱۹۵۰۰
ايميل: gbrlo@unhcr.org

UNHCR
United Nations High Commissioner for Refugees
Haut Commissariat des Nations Unies pour les réfugiés

## تاسې کولی شئ په قانوني ډول د ډبلین بل هیواد ته ولاړ شئ که چیرې

- تاسې ماشوم یاست (عمر مو له ۱۸ کلونو څخه کم وي). تاسې د خپلې مور یا د خپل پلار یا بل بالغ نفر سره چې ستاسې مسؤل دی نه یاست. تاسې لاندې افراد لرئ، یا فکر کوئ چې لرئ یې:
  - پلار، مور، ستاسې مسؤل بل بالغ فرد، ورور، خور، ښوک چې د قانون له مخې د ډبلین بل هیواد، کې حضور ولري؛ یا
  - ترور، تره/کاکا یا نیکونه ښوک چې د قانون له مخې د ډبلین بل هیواد، کې حضور ولري او ستاسې پاملرنه کولی شي؛

  او
  - تاسې وغواړئ چې پدغه هیواد کې د هغه/هغې سره یوځای شئ.
- تاسې بالغ یاست او د ډبلین بل هیواد، کې ښځه/خاوند، د ژوند شریک، ماشوم (چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي) لرئ. تاسې وغواړئ چې هغه/هغې سره یوځای شئ. هغه پدغه هیواد کې د پناه غوښتنه کوي یا د هغه/هغې غوښتنلیک په اړه یې مثبت پریکړه ترلاسه کړې وي.
- تاسې د اوسیدو معتبر اسناد/ویزه لرئ چې د ډبلین کوم هیواد، لخوا صادر شوي وي یا د اوسیدو داسې اسناد چې د تاریخ تیریدو راهیسې یې له دوه کلونو څخه لږه موده تیره شوې وي یا ویزه چې د تاریخ تیریدو نیټې راهیسې له شپږو میاشتو لږ وخت شوی وي او تاسې له هغه وخت څخه د ډبلین هیوادونو، خاورې څخه وتلي نه اوسئ.
- تاسې امیندواره یاست، نوی زیږیدلی ماشوم لرئ، یا ډیر معیوب یاست، خورا ډیر ناروغ اوسئ یا عمر مو ډیر وي او تاسې والدین، ورونه او خویندې یا ماشوم ولرئ چې د ډبلین بل هیواد، کې قانوني هستوګنه لري. تاسې وغواړئ چې هغه/هغې سره یوځای شئ. دغه فرد کولی شي تاسې سره مرسته وکړي.
- تاسې بالغ اولاد، ورونه خویندې یا والدین لرئ چې امیندواره وي، نوی زیږیدلی ماشوم وي، ډیر معیوب وي، خورا ډیر ناروغ وي یا عمر یې ډیر وي او د ډبلین بل هیواد، کې قانوني هستوګنه لري. تاسې وغواړئ دغه فرد سره یوځای شئ. تاسې کولی شئ دغه فرد سره مرسته وکړئ.
- تاسې غواړئ د بشري دلایلو له مخې د ډبلین بل هیواد، کې د خپلې کورنۍ یوه غړي سره یوځای شئ، په ځانګړي توګه د کلتوري او کورنۍ ملاحظاتو لپاره. نوموړی هیواد ستاسې د قبولیت سره موافقت کوي.

## که تاسې فکر کوئ چې د ویل شوي شرایطو څخه کوم یو کې یاست، نو دا خورا مهم دي چې تاسې

- د هغه هیواد په ادارو کې د پناه غوښتنه وکړئ کوم کې چې تاسې همدا اوس یاست.
- خپل وضعیت دغه ادارو ته تشریح کړئ او ټول اړوند معلومات/اسناد ورسره شریک کړئ چې تاسې یې د ځان او خپلې کورنۍ غړو په اړه لرئ (نومونه، آدرسونه، د تلیفون شمیرې، د کورنۍ اړیکې ثبوت، د اوسیدو جواز وغیره) ترڅو د امکان تر حد پورې ژر ستاسې غوښتنه پدغه ادارو کې ملاتړ شي.

# که تاسې د پناه غوښتنه کړې وي، د ډبلین بل هیواد، ته وړل شوي یاست یا ژوند ورپکې کوئ

نو تاسې ممکن بیرته دغه هیواد ته ستانه کړل شئ که چیرې:

- تاسې کوم هیواد کې چې اوس یاست دې ته د ننوتلو څخه مخکې د ډبلین بل هیواد، کې د پناه لپاره غوښتنه کړې وي؛ یا
- شواهد (لکه ستاسې د ګوتو نښې) شتون ولري چې تاسې اروپا ته د ډبلین بل هیواد، څخه ننوتې یاست یا تاسې لږترلږه د ۵ میاشتو لپاره د ډبلین بل هیواد، کې ژوند کړی وي؛

او

- تاسې د ډبلین بل هیواد، ته د لیږدول کیدو غوښتنې لپاره هیڅ معتبر دلیل ونلرئ (پورته ذکر شوي معیارونه وګورئ).

## د ډبلین پروسیژر/پروسه

- که تاسې ماشوم یاست (عمر مو له ۱۸ کلونو څخه کم وي)، نو
- چارواکي به کوم څوک پیدا کړي چې تاسې سره مرسته وکړي (استازی/ساتونکی/وکیل).
- له تاسې څخه به وغوښتل شي چې د خپلو ګوتو نښې ورکړئ (که ستاسې عمر له 14 کلونو څخه ډیر وي).
- تاسې کولی شئ د ژباړونکي څخه مرسته ترلاسه کړئ او حق لرئ چې د ژباړونکي غوښتنه وکړئ که اړتیا ورته لرئ.
- تاسې حق لرئ چې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري، UNHCR سره اړیکه ونیسئ، چې دغه اداره تاسې سره ستاسې غوښتنه کې مرسته کولی شي (مهرباني وکړئ د ورقې په شا د اړیکې توضیحات وګورئ).
- تاسې سره به د چارواکو لخوا هغه هیواد کې مرکه وشي کوم کې چې یاست او له تاسې څخه به وغوښتل شي چې اړوند معلومات او/یا اسناد وړاندې کړئ.
- که تاسې پورته ذکر شوي شرایطو څخه کوم یو ولرئ، نو کوم هیواد کې چې تاسې یاست

د هغه هیواد چارواکي به د بل هیواد چارواکو ته غوښتنه ولیږي که چیرې تاسې د انتقال کیدو لپاره دلیل ولرئ یا به ستاسې د غوښتنلیک ارزولو پریکړه وکړي که چیرې تاسې د دلته پاتې کیدو دلایل ولرئ.

- تاسې ته به د هغه هیواد د پریکړې په اړه خبر درکړل شي چیرې چې ستاسې غوښتنه لیږل شوې وه.
- که د انتقال موافقت وشي نو د غوښتنلیک څخه نیولې تر د انتقال پورې پروسې موده په هرهیواد کې توپیر لري. عموماً له ۱ څخه نیولې تر ۱۱ میاشتو پورې وخت نیسي مګر ځینې داسې حالتونه شتون لري چې ډیر وخت نیسي.

### د دې دورې په جریان کې تاسې حق لرئ چې

- کوم هیواد کې چې یاست هلته پاتې شئ.
- هستوګنه، خواړه، لومړنۍ طبي پاملرنه، عاجل طبي پاملرنه وغیره ترلاسه کړئ.
- که ستاسې عمر له ۱۸ کلونو څخه کم وي، نو تاسې ښوونځي تلو ته دوام ورکولی شئ.

UNHCR
United Nations High Commissioner for Refugees
Haut Commissariat des Nations Unies pour les réfugiés

# د ډبلین مقرراتو په اړه معلومات
# د هغه غوښتونکو لپاره چې د نړیوال محافظت په لټه کې دي

## د ډبلین مقررات څه شی دي؟

په اروپا کې، هیوادونو د پناه غوښتنو اداره کولو په موخه ګڼ مقررات رامینځته کړي دي. د دې سیستم یوه برخه د ډبلین مقررات دي. د ډبلین مقررات یو قانون دی چې مشخص کوي چې په اروپا کې د ۳۲ هیوادونو یا ,ډبلین هیوادونو، ترمینځ کوم هیواد د یو لړ معیارونو له مخې ستاسې د پناه غوښتنلیک په اړه پریکړه کولو مسؤلیت لري (لاندې وګورئ).

### ,د ډبلین هیوادونه،

| | | | |
|---|---|---|---|
| اتریش | فنلینډ | لتویا | پورتګال |
| بلجیم | فرانسه | لیشتنستین | رومانیا |
| بلغاریه | آلمان | لیتوانیا | سلواکیا |
| کرواسیه | یونان | لوګزامبورګ | سلوانیا |
| قبرس | هنګري | مالتا | هسپانیه |
| چک جمهوریت | آیسلینډ | هالنډ | سویډن |
| ډنمارک | آیرلینډ | ناروې | سویزرلینډ |
| استونیا | ایټالیه | پولنډ | انګلستان |

دا پدې معني دی چې ځینې ځانګړي شرایطو کې ممکن تاسې ته اجازه درکړل شي چې په هغه هیواد کې پاتې شئ کوم کې چې تاسې یاست، د مثال په توګه که تاسې کورنۍ لرئ، یا کوم بل هیواد ته په خوندي، آزاد او منظم ډول منتقل شئ، د مثال په توګه که تاسې هلته کورنۍ ولرئ.

که بل هیواد ته د انتقال کیدو لپاره دلایل شتون ولري، او که چیرې دغه غوښتنه د نوموړي هیواد لخوا ومنل شي، نو بیا به ستاسې د پناه غوښتنلیک هماغه هیواد کې ارزول کیږي. که تاسې بالغ فرد یاست نو د کورنۍ سره یوځای کیدل یوازې هغه مهال د ډبلین مقرراتو لاندې ترسره کیدی شي که چیرې په بل هیواد کې د کورنۍ غړي مو لیکلی رضایت وړاندې کړی وي چې تاسې ته ښه راغلاست وایی.